سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۲/۰٤

# ډاکتر خلیلزاد وایی:
# «لکه جنګ، سوله هم قربان غواړی»

د سیاسیونو دخبرو تعبیر، تفسیر او په اصلی مطلب باندی پوهیدل یی زما په څیر غیری مسلکی یا غیری سیاسی شخص ته څه اسان کار ځکه نه دی چی سیاسی ژبه لکه په اشارو خبری کول چی په انګلیسی ژبه کی ورته (Body Language) وایی، ورته والی لری، او په دی ژبه پوهیدل ځانګری زده کړی غواړی. خو د عوامو یوه خبره داسی هم شته چی ، ( یو تن د بل نه پوښتنه کوی چی خدای ج په څه پیژنی؟ هغه ځواب ورکوی چی په قدرتونو یی پیژنم) دی پوښتنی ته دا ډیر په ځای او منطقی ځواب دی چی پوښتونکی باید پری قانع شی.

د افغانستان ټول اوسیدونکی، دی د څلورو لسیزو جنګ ځګرو، وژنو او بربادیو، او ورسره په سلګونو کنفرانسونو، سیمینارونو، ورکشاپونو او د نورو غونډو جوړیدو او په هغی کی د بیلو بیلو ډلو او اشخاصو د خبرو له اوریدو او لوستلو نه اوس تر ډیره حده د هر داسی هیئت او ډلی د ویاند یا دمشر لکه ډاکتر زلمی خلیلزاد په خبرو، کنایو او اشارو باندی پوهیږی او کولی شی چی د دوی د خبرو که مکمل سم تحلیل و نه شی کړلی نو حقیقت ته ورنژدی تحلیل خو یی خامخا کولی شی.

ښاغلی خلیلزاد په افغانستان کی د سولی د خبرو د مخ ته بیولو د پاره د امریکا د متحده ایالاتو هسی استازی دی چی د صلاحیت اندازه یی نه د امریکا ولس ته معلومه ده او نه افغان ولس او دولت ته. همدارنګه په دی هم څوک نه پوهیږی چی هغه کسان څوک دی چی د طالبانو په نمایندګی د خلیلزاد صاحب سره د طالبانو د دونرانو ( مرسته کونکو) هیوادونو،کله په یوه او کله په بل ښار کی خبری کوی، ایا دا افغانان دی، که پاکستانی جنرالان؟ ایا دوی افغانان دی که عربی شیخان؟ مونږ په دی پوهیږو چی د داسی خبرو جزئیات باید په پوره توګه افشا نشی، خو داچی ګډون کونکی هم باید ونه پیژندل شی د پوښتنی وړ ده.

له هغه وخته چی ښاغلی خلیلزاد د افغانستان د سرنوشت د ټاکلو د پاره د (بُن) له ناکام او نیمګړی تړون نه را وروسته، دا دویم د سولی د راوسټلوماموریت راپیل کړیدی، په عامه توګه دا خبره کوی چی د سولی خبری ښی په مخ روانی دی او هیله مندی ښکاره کوی چی ګوندی ښی پیلی ته به ورسیږی. خو د همدی خبری سره سمه بیا دا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

خبره کوی چی طالبان نه غواړی چی د افغان دولت د مامورینو سره خبری وکړی. دلته سړی حیران شی چی که طالبان د افغان د ملی یووالی په نوم د دولت سره چی د ټولی دنیا د هیوادونو سره دیپلوماتیکی اړیکی لری خبری نه کوی، نو د ښاغلی خلیلزاد د دی خبر نه مطلب څه دی چی « د طالبانو سره خبری په ښه توګه په مخ روانی دی»؟

ډاکټر خلیلزاد صاحب نه چی کله میدیا پوښتنه وکړی چی : ایا د طالبانو سره ستاسو د خبرو په اجندا کی د موجوده افغان دولت په ځای د موقت دولت د را منځ ته کیدو مسئله هم شامله ده کنه؟ نو جناب ډاکټر خلیلزاد د یو معنی لرونکی مُسکا سره ( چی ممکن عادت یی وی ) وایی چی « مونږ په دی هکله خبری نه دی کړی» د دی خبری نه داسی سړی پوهیږی چی هو! دا مسئله د اجندا برخه ده خو تر اوسه لا دی ځای ته نه یو رسیدلی. اما په څرګنده توګه داسی نه وایی چی، نـــه ! زمونږ د خبرو په اجندا کی د موقت دولت د جوړیدو مسئله بلکل نه ده شامله.

له بله پلوه په عین وخت کی خلیلزاد صاحب وایی چی « که جنګ قربانی غواړی نو سوله هم قربانی ته اړتیا لری».
د خلیلزاد د دی خبری په ځواب کی افغان جمهوررئیس ډاکټر اشرف غنی وایی چی: (زه نه غواړم چی شاه شجاع شم او نه غواړم چی د ګندمک بل تړون را باندی څوک لاس لیک کاندی» (کیدای شی چی په الفاظو کی به څه تغیر وی خو باوری یم چی په مفهوم کی توپیر نشته)

اوس که د خلیلزاد او اشرف غنی دا دوه خبری څنګ په څنګ مخی ته کیدو نو په پوره وضاحت سره وینو چی د افغان دولت نه د طالبانو غوښتنه د پاکستان د دولت په خوښه او په ګټه، هماغه ډول غوښتنه ده لکه د ګندمک په تړون کی چی کیو ناری انګریز په امیر محمد یعقوب خان باندی او مکناټن انګریز په شاه شجاع باندی منلی و. (خو هیله ده چی د افغان امریکای خلیلزاد صاحب نه دا هم نه وی هیر شوی چی دا دواړه انګریزان د افغانستان نه روغ ونه وتل)

مونږ پوهیږو چی د راتلوکی ۱۳۹۸ هـ ش کال د جوزا په میاشت کی افغان موجود جمهور رئیس باید بل منتخب جمهور رئیس ته قدرت وسپاری. د دی سره په دی هم خبر یو چی د ټاکنو خپلواک کمیسیون وایی چی د امکاناتو د نه لرلو له کبله د حمل په میاشت کی ټاکنی نشی تر سره کولی، سرطان ته یی وغزولی، او اوس وایی چی د ټاکنو مصارف (۷۰) ملیونه ډالرو ته رسیږی او دونرانو تراوسه دوی ته دا پیسی نه دی ورکړی نو په شک کی ده چی ټاکنی دی په سرطان کی هم تر سره شی. داټول هسی حالات دی چی د جوزا له میاشتی وروسته د دی دولت مشروعیت له منځه وړی او د قدرت خلا را منځ ته کیږی. دا خلا دی ته زمینه برابروی چی په داخل د مملکت کی د سولی دښمنان (غاصبین، مفسدین، زورواکی، متمردین، غله او د ملی شتمنیو چپاولګران) چی لا د پخوا نه یی خپل دریځ څرګند کړیدی، او ټول د پاکستان په خدمت کی دی،د طالبانو سره یوځای په یوه اوازد داسی یوه موقت دولت د جوړیدو غږ را پورته کړی چی له همدوی څخه به جوړیږی، او په داسی یوی سولی سره راضی کیږی چی په راتلونکی کی له هیچا نه د هغو جرمونو پوښتنه ونشی چی په دا تیرو اتلسو کلونو کی یی سرته رسولی دی.( په دی کی هم شک نشته دی چی دا کرت به خدای دی نکړی د نجیب په څیر یوبل احمدزی د سولی قربانی شی)

د دی احتمالی پروژی په تطبیق سره به دا ملت د نورو داسی نوو ستونزو سره مخامخ کیږی چی دا ولس به یو وار بیا د افراطیت منګولو ته ور اچوی او د اسلامی امارت د جوړیدو تر نامه لاندی به د افغانستان موجود سرحدات له منځ وړی، افغانستان به د سید مخدوم رهین، ګلبدین حکمیتار، ملا هیبت الله، لطیف پدرام، برهان الدین ربانی،

ملاسیاف،تورن اسماعیل،حضرتانو، پیرانو او ډیرونورو د غوښتنی سره سم د امریکا د ملګری پاکستان او د امریکا د ظاهری دښمن ایران تر منځ تقسیم شی.

زه د ګرانو لوستونکو نه له دی کبله چی د افغانستان د نابودی خبره می وکړه بخښنه غواړم، ولی له بده مرغه په مسکو کی د طالبانو سره خبرو کی د ګډون کونکو ځیری د همدی هدف د تحقق د پاره یوه ډیره ښه نومونه کیدلی شی . خوکه دی پروژی ته د ډاکتر محمد اشرف غنی سره په ملګرتیا افغانان تغیر ورنکړی، بیا به ور باندی نا وخته وی او هر څه به یی له لاسه وتلی وی، او ټول افغان قومونه به خپل هویت له لاسه ورکاندی.

**هیله من یم چی زما اندیښنه بی ځایه وی. په درنښت.**

**پای.**

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی ددی لیکوال نوری لیکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!